SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارګان

څلورم کال دوه اتیایمه ګڼه پرله پسي (۲۷۲) چهارشنبه د ۱٤۲۰ هـ ق کال د رجب المرجب (۲۵) د ۱۳۷۸ هـ ش کال د لړم دمیاشتي (۱۲) د ۱۹۹۹ میلادي کال د نوامبر (۳)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ! ځکه چې عدل (انصاف) تقوا ته نږدې دی.

عدل (انصاف) وکړئ تاسي!، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزگاري) ته.

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتي بگذارید.

د رئیس الوزراء مرستیال او د ختیځ زون تنظیمه رئیس د ننګرهار ولایت د چارواکو په غونډه کي:

که چیری کوم فاسق، فاجر او یا کمونیست ستاسو په لیکو کی ځای نیولی وی هغه له خپلو لیکو نه وباسی

د رئیس الوزراء مرستیال او د ختیځ زون تنظیمه رئیس محترم مولوي عبدالکبیر پرون د ننګرهار ولایت د چارواکو او ددغه ولایت د امنیتي مسئوبینو او د اړوندو ولسوالانو په هغې پراخه غونډه کي ګډون وکړ چې د جلال آباد په ښار کي جوړه شوي وه.

د جلال آباد له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ په دي غونډه کي د رئیس الوزراء مرستیال په دي ترڅ کي چې د اسلامي نظام او د خپلو مؤمنو خلکو په وړاندي د امنیتي چارواکو او ولسوالانو دندي او مکلفیتونه جوت کړل. وي ویل: تاسي د ننګرهار ولایت په مرکز او ولسوالیو کي د اسلامي امارت استازي یاست. او باید په ښې او اسلامي روحیې او چلند سره د خلکو ستونزي او مشکلات د وخت له ضایع کولو پرته په ښه

توګه حل کړي که چیري کوم فاسق فاجر او یا کمونست ستاسو په لیکو کي ځاي نیولي وي هغه له خپلو لیکو نه وباسي او خپلي لیکي د دغسي افرادو له شته والي نه پاکي کړي.

****

٤ مخ

اظهارات عالیقدر امیر المؤمنین به ارتباط نامه اخیر اسامه بن لادن:

امریکا و روسیه آواز اسلام را برای خود زنگ خطر می دانند

اکنون باز هم در مقابل افغانستان غمزده روسها خود را غلامان امریکا و امریکایي ها خود را غلام روسها ساخته اند

نامه یی را که از سوي اسامه بن‌لادن عنواني هیئت رهبري امارت اسلامي افغانستان ارسال گردیده و در آن با قبول دو شرط به آماده گي خویشرا براي برآمدن از افغانستان ابراز نموده است مگر در این مورد از واکنش امریکا چنین بر می آید:

که آنان به حل صلح آمیز مسئله آماده نمیباشند زیرا امارت اسلامي افغانستان مذاکرات و فیصله شرعي علماي کرام را پیشنهاد نموده بود مگر از سوي امریکا در این مورد کدام عکس‌العمل مثبت به دست نیامد.

این عمل و کردار امریکا به قصه گرگي می ماند که به گوسفند بره گفت که تو چرا سال پیش به من دشنام دادي وي به جوابش گفت که من سال گذشته زاده نشده بودم. گرگ تعجب نمود که مرا دروغگوي نمودي به گوسفند حمله نموده و آنرا بلعید.

قبلاً امریکا میگفت اسامه را بیرون بکشید اکنون که اسامه خودش حاضر شده است که اگر امکان دارد از افغانستان بر آید. پس امریکا با بسیار بی انصافي میگوید که این براي ما قابل قبول نیست پس معلوم شد که امریکا و روسیه آواز اسلام را براي خویش زنگ خطر می دانند.

اینکه در افغانستان چه گذشته است و یا جریان دارد و یا هم در چیچن و یا تاجکستان، ازبکستان و بعضي از ص ٤

دارالحفاظ حضرت زید‌بن ثابت «رض» افتتاح گردید

دارالحفاظ حضرت زید بن ثابت«رض» دیروز طي محفلي در منطقه کمپني مربوط ناحیه پنجم شهر کابل افتتاح گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: در این محفل که بر علاوه اراکین امارت اسلامي تعداد زیادي از علماء و اهالي منطقه متذکره اشتراک داشتند.

بعد از آنکه آیاتي چند از کلام الله مجید قرائت گردید محترم سید حمید الله آغا یکتن از علماء و متنفذین آن منطقه و محترم قاري محمدآغا ناظم دارالحفاظ متذکره ضمن صحبت هاي شان حفظ و تلاوت قرآن عظیم الشأن را از وظایف نخستین اولاد وطن دانسته توجهات امارت اسلامي را که در این راستا روز تا روز گسترش مي یابد قابل اهمیت خواندند.

همچنان سخنرانان از پالیسي ص ٤

در کمیسیون اقتصادي امارت اسلامي افغانستان:

برخی از مسایل اقتصادي کشور مورد بحث قرار گرفت

برخي از مسایل اقتصادي کشور دیروز در جلسه کمیسیون اقتصادي امارت اسلامي افغانستان مورد بحث قرار گرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: در جلسه که تحت ریاست محترم قاري دین محمد حنیف وزیر پلان دایر گردید ضمن آنکه برخي از مسایل اقتصادي و اجتماعي کشور ص ٤

محترم والي ولایت بغلان با مسؤول امنیتي دفتر سازمان ملل متحد در افغانستان ملاقات نمود

محترم مولوي محمد اسحق آخند زاده والي لایت بغلان دیروز با شاغلي دوګو مسوول امنیتي دفتر سازمان ملل متحد در افغانستان ملاقات نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: در این ملاقات در رابطه به افزایش فعالیت هاي ملل متحد بحث و تبادل نظر صورت گرفته شاغلي دوګو در مورد یك ص ٤

د غزني ولایت د ناوي ولسوالي روغتون بیا جوړ او روغتیایي خدمتونو ته چمتو شو

د غزني ولایت د ناوي ولسوالي روغتون چي له کمونستي شرموونکي کودتا وروسته د ملحدینو لخوا ویجاړ شوی و بیا جوړ او روغتیایي خدمتونو ته چمتو شو.

د غزني له ښار نه د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ د غزني ولایت د ناوي ولسوالي د روغتون ودانۍ چي له کمونستي شرموونکي او جنایت کاري کودتا وروسته ویجاړه اوله منځه تللې وه له سوله ییزو شرایطو نه په ګټې اخیستنې سره د بیا جوړولو کار یې د سویدن موسسې د جنوب ختیځې حوزې ٤ مخ

در ولایت هلمند بمنظور کاهش زرع کوکنار جلسه وسیع دایر گردید

بمنظور کاهش زرع کوکنار دیروز جلسه وسیع به اشتراک بعضي از مسؤولین امور در مقر ولایت هلمند دایر گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: جلسه متذکره به اشتراک محترم مولوي عبدالحمید آخند زاده رئیس عمومي کمیسیون عالي امارتي مبارزه علیه مواد مخدر محترم مولوي خوشدل معاون ولایت هلمند محترم مولوي بهاوالدین رئیس مبارزه علیه مواد مخدر محترم شاروال لشکرګاه

٤ مخ

امور تحصیلات عالی در ولایت بلخ بررسی گردید

امور تحصیلات عالي در ولایت بلخ دیروز طي جلسه یي در مقر آن ولایت توسط محترم مولوي حمد الله نعماني وزیر تحصیلات عالي بررسي گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: جلسه متذکره که به اشتراک محترم مولوي حمد الله نعماني وزیر تحصیلات عالي، محترم مولوي اختر محمد عثماني و عده دیگر از مسؤولین تعلیمي و تحصیلي ولایت بلخ دایر گردید جهت بهبود و تنظیم امور تحصیلي در آنولایت بحث و تبادل نظر صورت گرفته و محترم سرپرست وزارت تحصیلات ص ٤

به سلسله راه اندازي مسابقات علمي بین طالب العلمان مدارس ریاست معارف ولایت کابل

مسابقات علمي و تشویقي در بین طالب العلمان مدارس ولسوالي شکردره راه اندازي گردید

شریعت: بمنظور آگاهي و ارتقاء سطح سویه علمي و انکشاف ذهني طالب العلمان مدارس ریاست معارف ولایت کابل اخیراً مسابقات علمي و تشویقي بین طالب مدارس ابتدائیه، متوسطه و ثانوي ولسوالي شکر دره براه انداخته شد.

در اجتماعیکه بدین منظور در تپه سرخ آب آن ولسوالي تدویر گردیده بود تعداد کثیري از علماء دانشمندان، استادان و طالب العلمان و اهالي معارف‌پرور ولسوالي شکردره اشتراک ورزیده بودند.

ص ٤

د کابل پوهنتون

د فارمسي د پوهنځي د څلور دیرشمي دوري فارغانو ته د فراغت سندونه وویشل شول

د کابل پوهنتون د فارمسي پوهنځي د څلور دیرشمي دوري فارغانو ته فراغت سندونه په دغه پوهنځي کي د یوي غونډي په ترڅ کي وویشل شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغې غونډه کي چي له همدي امله د کابل پوهنتون د مشرتابه هیأت په ګډون د فارمسي پوهنځي په تالار کي ص ٤

در ولسوالي سنگ چارك ولایت سر پل:

يك گروپ از اخلال گران و مجرمین سرکوب گردید

یك گروپي از اخلال گران و مجرمین اخیراً در مناطق کوهستاني ولسوالي سنگچارك ولایت سرپل توسط مجاهدین اردوي اسلامي سرکوب گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: مجاهدین اردوي اسلامي به همکاري اهالي متدین ولسوالي سنگچارك ولایت سرپل اخیراً یك گروپي از اخلال گران و مجرمین را در مناطق کوهستاني آنولسوالي سرکوب نموده و دو نفر از سرگروپ این گروه مخرب و جنایت بار بنام هاي جمیل و عتیق همراه با ۲۵ نفر دیگر هنگام فرار از منطقه توسط قواي بیدار امنیتي از پا در آمده و به هلاکت ص ٤

اجراآت و فعالیتهاي دوایر ملکي و نظامي ولایت سرپل مورد بررسي قرار گرفت

اجراآت و فعالیت هاي دوایر ملکي و نظامي ولایت سرپل دیروز طي جلسه در آنولایت مورد بررسي قرار گرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د امریکی د حکومت نا معقول، سرتمبه او د دښمنی دریځ

د امریکی د حکومت دریځ د اسامه په هکله لا له پیل نه د هوښیاری په بنسټ ولاړ نه دی، دا ځکه چی: له هر څه نه مخکی د امریکی دحکومت اندیښنه او تشویش د افریقی له چاودنو نه لا هم پخوا د یو لند تفاهم او خبرو اترو په وسیله له منځه تلای شوای چی په هغه صورت کی به نه دغو اوبد و ناندریوته، نه د پنځه ملیونو ډالرو انعام ته، نه په خوست باندی د توغندیو وورولو ته اړتیا وه چی د افغانانو له ځانی او مالی تاوان، له قهر او خپګان پرته، د امریکی په هکله له کرکی او دښمنی پرته بی بله هیڅ ګټه ونه کړه، نه به د افغانستان له اسلامی امارت

۲ مخ

شفاخانه ۵۰ بستر ولایت بغلان بعد از ترمیم و احیاء مجدد دو باره افتتاح گردید

شفاخانه پنجاه بستر ملکي ریاست صحت عامه ولایت بغلان بعد از ترمیم و احیاء مجدد دیروز طي مراسمي افتتاح و به بهره برداري سپرده شد.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر پلخمري خبر میدهد: به ادامه باز سازي و احیاي دو باره مراکز صحي و تاسیسات عام المنفعه، شفاخانه پنجاه بستر ریاست صحت عامه ولایت

ص ٤

په هندوستان کي د وروستیو توپانونو د تلفاتو شمیر تر لسو زرو تنو پوري اټکل شوي دي

د هندوستان حکومت ددغه هیواد په دوو ختیځو ولایتونو کي د سختو توپانونو له امله د تلفاتو شمیر تر لسو زرو تنو پوري اټکل کړیدي.

دغه توپانونه څلور ورځي

٤ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : محمد داد
دیوي گڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پُست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

سره د خپگان څېره اوسنی بې خونده پولی ته د رسیدلو اړتیا وه او نه به د هغو امریکاپانو ویره، تر هغه تردومره تریخ کچ پوری رسیدلی وه چې په بهرنیو هیوادونو کی اوسیږی.

په تیروخت کی د امریکی حکومت دغه ټولی غلطیاوی وکړی چی د هغو په پایله کی بې نه یوازی افغانان بلکی د نړی مسلمانان ټول له ځانه خوابدی کړل، اسامه یې په لوی لاس د امریکی لپاره یونه پخلا کیدونکی د ښمن جوړ کړ، اسامه چې په نړی کی څومره خلک پیژنی هغه یې واړه په لوی لاس د امریکی بدبین او بدخواه کړل، د افغانستان مجاهد ولس چې د سرخورلی شوروی د تیری په وخت کی د امریکی په مرستو خوشاله او ممنون وو اوس امریکی له ځانه بیزاره کړ، د امریکی او افغانستان د هیوادونو ترمینځ چې څومره د دوستی اړیکی وی هغو ته یې هم پخه لغته ورکړه،

ددغو غلطیانو په لړ کی یې لومړی د امریکی د حکومت په سطحه په افغانستان اقتصادی بندیز ولگاوه چې په دغه کار سره یې د خپل هیواد گټی زیانمنی او له افغانستان سره یې اړیکی لا پسی خرابی کړی،

په اوس وخت کی یې د امنیت شوری د پریکړی په ذریعه د اقتصادی بین المللی بندیز پروسه راوراندی کړه، د امریکی د بهرنیو چارو وزارت څېره تر اوسه داسی وه چی کله اسامه له افغانستان څخه ونه باسی نو بندیز به عملی شی خو اوس چی اسامه په خپله د وتلو نیت کړی دی امریکه وایی مونږ ته دا څېره کافی نه ده تر څو چی اسامه امریکی ته ونه سپارل شی؛ افغانان پوښتنه کوی چی د امریکی په څېره کی بدلون د څه لپاره راغی ؟ افغانان دغه بندیز د امنیت له شورا څخه نه گڼی ځکه چی هغه واک نه لری بلکی دغه بندیز هم د امریکی د حکومت له خوا څخه بولی ؛

د افغانستان اسلامی امارت تگلاره دا ده چی له گاونډیانو او ټولو هیـوادونو سـره ښې اړیکې ولری نو ځکه یې د بندیز له پریکړی نه را وروسته د امریکی حکومت ته دا سامه له پلوه د ډاډه کولو لپاره ډیر معقول د هوښیاری او ښه نیت په بنسټ وړاندیزونه وکول خو د امریکی حکومت له دی پرته چی معقول سوچ وکړی او د امریکاپانو راتلونکی او د هغه هیواد گټی په پام کی ونیسی لنده منډه یې وکړه او هغه یې له یوی مخی رد کړل، ؛ کیدای شی د امریکی مشرانو دغه وړاندیزونه د افغانستان د اسلامی امارت د کمزوری نښه بللی وی خو افغانان او د نړی معقول خلک یې د معقولیت او هوښیاری نښه بولی؛

د امریکایی مشرانو د سر تمبه او احمق دریځ له لیدلو څخه د افغانستان اسلامی امارت اوس ځان اړ وینی چی د اسامه په هکله خپل وړاندیزونه بیرته واخلی د امریکی مشرانو ته یو ځل بیا هم دا سوچ پکار دی چی که افغانان په اقتصادی بندیزونو او نورو فشارونو هر څومره تنگ کړی د امریکی گټه به څه وی ؟ دا سوچ دی هم وکړی چی که اسامه له افغانستان څخه ولاړ شی او هغه پوځی ځواک یې هم ملگری وی چې پخپله یې د غرب میډیا خپروی نو د هغی امریکی انجام به څه وی چی اسامه یې په لوی لاس د امریکا لپاره دښمن کړی دی او په دښمنی کی یې ښه په مخ بیولی دی؟

د افغانستان اسلامی امارت پوهیږی چی امریکه به له اسلام سره د ښمنی له امله هڅه وکړی چی د افغانستان جنگ ځپلی ولس په اقتصادی بندیزونو او نورو فشارونو سره د عراق ، لیبیا او نورو په څیرو ځپی خو افغانان د خپل هیواد، مذهب، دینی او ملی روایاتو او عنعناتو له ساتنی څخه په هیڅ بیه لاس په سر کیدای نه شی او خپل ځان خپل خالق، رازق او حافظ الله تعالی ته سپاری .

فالله خیر حافظا ...

ضرورت افزایش کمک های بشری برای ملت افغانستان

دوکتور حبیب الله «فرهمند»

از اعلامیه جهاني حقوق بشر پنجاه و یك سال سپري شده این اعلامیه که از سوي ملل متحد به تصویب رسیده فهرستي است از یك رشته کامل از حقوق سیاسي، اجتماعي، اقتصادي و فرهنگي مي باشد که تنها در حدود رهنمود بوده و از نظر حقوقی لازم الاجراء نیست بلکه از یك اقتدار معنوي و سیاسي برخوردار است. هژده سال بعد از این اعلامیه مجمع عمومي سازمان ملل متحد دو میثاق بین المللي و یك پروتوکول، یك میثاق راجع به حقوق اقتصادي اجتماعي و فرهنگي و دیگري میثاق مربوط به حقوق مدني - سیاسي به تصویب رسید این مسئله جنجال بر انگیز در سطح جهان است. دانشمندان این مسئله را مورد مناقشه قرار میدهند که به حقوق سیاسي - مدني و یا به حقوق اقتصادي، اجتماعي و فرهنگي در یك کشور عقب مانده قدامت داده شود. بسیاري به این عقیده است اگر به حقوق اقتصادي، اجتماعي و فرهنگي حق تقدم مطلق داده نشود لااقل بالاترین اولویت داده شود. از همین جهت سرمنشي سابق سازمان ملل متحد در مارچ ۱۹۹٥ در کوپنهاگن دنمارك طي سخنراني گفت : نمي توان مسایل سیاسي، اقتصادي و اجتماعي را طور جداگانه مورد مطالعه قرار داد ، رشد اقتصادي بدون پیشرفت اجتماعي دوامدار نخواهد بود و دموکراسي شرط بلا منازعه آن محسوب مي شود.

رئیس آماده گي ملل متحد براي کنفرانس امور اجتماعي در کوپنهاگن اظهار نمود نباید فقط در باره اتوکراسي، حقوق بشر و اقتصاد مارکیت صحبت کرد بلکه باید فقر و امور اجتماعي جهان را بحیث وظایف حل ناشده قرن حاضر نیز جداً مد نظر داشته باشیم از همین جهت سازمان ملل متحد همواره مي گوید براي احیاي مجدد افغانستان کمك هاي بشري باید به شیوه اي بسیج شود که مشوق صلح گردد .

با درك واقعیت ها در سالهاي اخیر، استراتیژي جدید حقوق بشر در جهان مطرح شده است نتیجه اصل این استراتیژي افزایش فورمول هاي حقوقي جدید مانند حقوق بین المللي انکشاف، حقوق بین المللي بشر دوستانه، حق برخورداري از صلح، حق زیستن در یك نظام عادلانه و **حق زندگي در محیط زیست سالم مي باشد.**

اکنون به همگان معلوم است که بحران تارو پود جامعه افغاني را فرا گرفته است، افغانستان بنا بر موقعیت استراتیژیك آن در گذشته و حال مورد تهاجم و مداخله بیگانگان قرار میگیرد و از این ناحیه به مردم افغانستان و سرزمین ما آسیب زیادي رسیده و میرسد، جنگ ۲۱ ساله با خسارات زیاد مالي، مادي و ضایعات بي شمار انساني را همراه بوده و پرابلم هاي زیادي اقتصادي و اجتماعي را به وجود آورده است، **تولیدات زراعتي ، مالداري، صنایع، ترانسپورت، و تجارت کاهش یافته و بر پیکر سکتور هاي اجتماعي از جمله تعلیم و تربیه ، تحصیلات عالي و مسلکي، امور صحي و خدمات اجتماعي آنقدر صدمه وارد شده که افغانستان در سطح جهان در ردیف آخرین قرار دارد.**

کمك هاي دو جانبه و چند جانبه وجود ندارد تنها کمك هاي بشري در کشور صورت مي گیرد و براي این کمك ها باز هم پیش شرط ها تعیین مي شود، همواره در پالیسي هاي (کشور هاي کمك دهنده) و مؤسسات غیر دولتي تغییرات به وجود مي آید. فراخوان هاي سازمان ملل متحد براي افغانستان که هر سال اعلام مي شود هیچیك آن تطبیق نمي شود یعني وجوه که پیش بیني مي شود تدارك نمي شود .

فقر و گرسنگي در افغانستان دامنه" وسیع پیدا کرده بیش از یك ملیون تن گندم در کشور کمبود است، حتي در بعضي نقطه ها قحطي و گرسنگي تعداد زیادي را بکام مرگ فرو مي برد، موجودیت ماین ها حق زندگي افغانها را سلب کرده از یك هزار کودك ۲٥۷ آن مي میرند آب آشامیدني صرف براي ۱۲ فیصد میرسد و خدمات صحي فقط ۱۷ فیصد نفوس روستا ها استفاده مي کنند، یك سال از تعلیم و تربیه در افغانستان ٤.٤ میلیون کودك واجد شرایط بمکتب وجود دارد صدف ۱۲ فیصد آن بمکتب میروند.

ملل متحد در سال ۱۹۹۹ صرف ٤.۸ فیصد منابع در امور تعلیم و تربیه اختصاص داده شده این به این معني است که کشور هاي کمك دهنده و مؤسسات خیریه کمتر به تعلیم و تربیه در افغانستان و براي افغانها در دیار هجرت توجه دارند.

من به این نظر هستم که اگر افغانستان توسط دیگران و یا به اشاره دیگان تخریب شده و به حالت اسفناك کنوني رسیده این دیگر جامعه جهاني و کشور هاي ذیدخل در مسئله افغانستان مسؤلیت اخلاقي و بشري دارند که با مردم افغانستان در شرایط فعلي باري برسانند اگر مساعدت هاي بشري براي مردم افغانستان است باید مردم در شرایط جنگ کمك شوند در شرایط صلح آمیز مردم ما خود شان در اثر زحمتکشي شان بپاي خود ایستاده خواهند شد مشکل عمده ملت افغانستان در شرایط دوران جنگي و دوران گذار از جنگ به صلح است .

ما از جامعه بین المللي تقاضا داریم که بدون پیش شرط ها با افغانها اندازه کمك هاي شانرا افزایش بدهند و با اقشار مستحق ، نادار، فقیر و دردمند جامعه ما کمك کنند.

د خوړو او ناروغیو ترمنځ اړیکې

وحید احمد «هارون»

که څه هم چې د ورځنیو خوړو او سرطان ناروغی ترمنځ اړیکی تر اوسه پوری په دقیقه توگه نه دي جوتی شوی خو ساینس پوهان په دې باور دي چې زموږ په خوړوکی داسی مواد هم شته چې بالاخره په وجود کی یا د سرطانی ژونکو (حجرو) له رامنځته کیدو او ودی سره مرسته کوی او یا برعکس د هغو د منځته راتلو او ودی مخه نیسی څرنگه چې په غربی هیوادونو کی په زیاته پیمانه الکولی مواد کارول کیږی او د هغوی د ورځنیو خوړو یوه برخه جوړوی نو ځکه یې څیړونکی دی ته **هڅولی دی تر څو په دی برخه کی څیړنی وکړی. ددی څیړنو پایلی ښیی چې د سرطان ناروغی او الکولو تر منځ ډیری ټینگی اړیکی شته د امریکا په متحده ایالاتو کی د (سرطانی ناروغیو د څېړنو ملی مرکز) اټکل کوی چې ددغی ناروغی ۳٪ پیښی د الکولو له څښلو سره تړاو لری او هغه خلک چې ډیر الکول څښی ددی ویره شته چې د** لړمون، مری، پانقراس، حنجری او خولی په سرطان اخته شی. هغه څیړنی چې په دی وروستیو وختو کی د هاروارد پوهنتون د زده کوونکو له خوا شوی دی، ښیی چی کـه میرمنی او وونی پرله پسی الکولی مشروبات وڅښی نو د (تیو) په سرطان د اخته کیدو ویره یې څو څو ځله زیاتیږی په تیره بیا که د . الکولو د مصرف تر څنگ له تنباکو څخه هم استفاده وشی نو د سرطان ویره زیاتیږی . علمی تجربی ښیی چی الکول د انسان په بدن کی د تنباکو د نیکوتینی موادو له زیات جذبیدو سره مرسته کوی او په دی ډول د سرطان ناروغی ته لاره هواروی برسیره پر دی په خوړو کی په سلهاوو نور کیمیاوی توکی هم شته چې د سرطان له ناروغی سره اړیکی لری خو د ساینس علم تراوسه پوری د هغو په پیدا کولو نه دی **توانیدلی چی له دی ډلی نه نایتریتونه او نایترایتونه یادولی شو . چی هم په طبیعی توگه په ځینو خوړو کی موندل کیږی او هم په مصنوعی ډول په ځینو خوړوکی کډیږی تر څو د هغوله ورستیدو (خوسا کیدو) نه مخنیوی وشی. تجربې ښیي چې دغه مواد د انسان بدن** ته له ورننوتو وروسته له هغو پروتینو سره چې په وینه کی شته یو ځـای کیږی او د NITROSAMITES په نامه مغلق کیمیاوی ترکیب چې یوه سرطان را منځته کوونکی ماده دی جوړوی چې زیاتره د معدی د سرطان سبب گرځی د بیلگی په ډول په جاپان، چین او ایسلند کی زیاتره له هغو خوړونه کار اخیستل کیږی چې په هغو کی نایتریتونه او نایترایرتونه ډیر وی له همدی امله په نوموړو هیوادو کی د معدی د سرطان پیښی ډیری دی برسیره پردی په جاپان کی د خوړو د براېرولو پخولو او خوړلو لاری چاری هم په زیاته پیمانه د معدی د سرطان سبب گرځی د یادولو وړ ده **چی زمونږ په هیواد کی له کانسرو شویو خوړونه ډیر لږ کار اخیستل کیږی له همدی امله نایتریتی مواد هم لږ اخلو ځینی میوی اوسابه په ناڅاپی ډول په ځینو کیماوی سرطان را منځته کوونکو موادو ککړیږی د مثال په ډول په حشره وژونکو موادو باندی د ځینو میوو او ترکاریو ککړتیا، چې په مینځلو او یا د پوستکی په لری کولو سره کولای شو زیاتره** دغه مواد لری کړو مگر کله کله دغه مواد د میوو تر پوستکی لاندی نفوذ کوی. هغه تجربی چی په ځینو هیوادو کی په بیلا بیلو وختو کی شوی دا ښیی چی شحمی مواد (غوړ) چی د ډیری کالوری (انرژی) درلودونکی د سرطان له منځته راوړلو سره مرسته کوی او زیاتره د تخمدانونو ، هضمی سیستم، تیو او پروستات، د سرطان سبب کیږی . دغه ډول ناروغی په اروپایی او امریکایی هیوادو کی ډیره ده مگر په جاپان کی ددی ناروغی پیښی ډیری کمی دی. ځکه چی په دغه هیواد کی له شحمی موادو (غوړیو) نه لږ کار اخیستل کیږی . هغه تجربی چی په حیواناتو باندی تر سره شوی دی ښیی هغه ژوی چی د شحمی موادو له خوړلو سره ډیره مینه لری، نسبت هغو نورو ته چی دی کار ته دومره زړه نه ښه کوی زیات **په سرطانی ناروغیو اخته کیږی . ددی خبری لامل چی خواږه څرنگه د سرطان سبب گرځی تر اوسه پوری ښه نه دی څرگند شوی مگر پوهان په دی باور دی چی شحمیات د بدن** وزن زیاتوی او د جنسی هورمونونو اندازه هم له نارمل حالت نه زیاتوی چی په دی ډول په سرطان د اخته کیدو ویره هم زیاتیږی .

پائي لري

گلهاي معرفت

عبدالرقیب «جهید»

گل توحید درگلزمین عشق می روید و با دانه هاي زلال تسبیح و تهلیل بارور و سطبر می گردد و با سرشك دیده و دل شگوفان شده و ریشه هاي آن به اعماق ثابت قلوب گرویدگان مؤحد و ربانیون متورع مستحکم و پر صلابت جاوداني است و زوال را بدان راهي نیست.

گل نیایش زیبا گلي از گلبن اخلاص و یقین است که بهار همیشه بهار عارفان نیك اندیش است و هیچگاه خزاني ندارد.

ستایش عظمت و جلال کبریایي گلي بي خاري است که ستایشگران شاکر و بندگان صابر بارگاه الهي جلت عظمته را به اسرار حقایق معارف و عین الیقین واصل ساخته و به باغستان خلد بهشت برین مقیم مي سازد.

پاییز

حزین

گویند موسم پاییز فرا رسیده و هنوز من در سرزمین شاداب بهاران عطر ها و رنگ ها ، گل و سنبل ، سوسن و نسترن ، ارغوان و ریحان و همه دیباچه مرغزار بهاري مستغرق در نظاره کارگاه شگفت انگیز عالم هستي متفکرم .

بهار! آري نامیست مقبول و پر از زیبایي و حلاوت و طراوت .

آژیر پاییزي بصدا در آمد که این همه زیبایي هاي شگرف طبیعت و تکوین آفریدگار را منقلب سازد و گلها و سبزه زار ها ، درختان مقبول و باغ هاي شگوفه بار را با یورش غافلگیرانه از اریکه هستي نفي سازد مگر بهار در قاموس ما ویژه گي خاص دارد و این بهاري است پایدار و جاوداني که لشکر متوحش پاییز او را متزلزل کرده نمیتواند و این بهار خرم و پر اقتدار جوانان مسلمان و متعهد به اسلام است .

ویژه گي ما جوانمردي و پایمردي و ثبات است که در رگ رگ کالبد ما کار گزاري شده و از نیروي عظیم ایمان و معنویت سرچشمه گرفته و با قامت چون سرو آراسته در بهار و خزان سبز بوده هستیم و خواهیم بود .

هرگز به پیکر ثخین و مقاومم
باد خزان گزند بکلي اثر نکرد

کتاب آسمانی

اوراتوس «غزل»

اي کتاب اي رهبر راز و نیاز
از تو دارم یك جهان سوزو گداز
هر سخن بیرون ز راه است تا بجا است
از تو میگیرم کمال امتیاز
نور میبخشد سخن هایت مرا
در تو یافتم معني راز و نیاز
راز دل را با تو گویم مو به مو
غیر تو کسی نیست با من اهل راز
بسته ام با حرف حرفت تار عشق
تا بیابم راه دل را از تو باز
هر سخن چون بیشتر گویم تا بجاست
بیشتر کي دارد بیالم سوزو ساز
گوهر معني ترا در سینه است
دفتر قرآن سراسر دل نواز

مادر

حیات الله بخشي

اختر رخشنده یي در آسمان ها مادر است
مشعل تابنده در کهکشان ها مادر است
آنکه نام نیك او شد افتخار ما عیان
آن نکو نام در زمین و در زمان ها مادر است
آن بهشت جاودان و طوبي و خلد برین
زیر پاي مادران ها مادران ها مادر است
در سخن گفتن، شنیدن، یا کتابت کردنت
این بدان زیب کلام در هر زبان ها مادر است
جستجویي گر کند قاموس طبعم «بخشیا»
واژه، شایسته، در جمع آن ها «مادر است»

د پرهرو خبری مه کوی

حنیفه «زاهد» شاه جویی

مانه د غمونو او دردو خبری مه کوی
مانه د نیمگړیو ارمانو خبری مه کوی
پرېږدی چه ژړاند زړگوټی لږ غوندی ارام وکړی
بود بل د پاسه پرهرو خبری مه کوی
تاندی تاندی هیلی بی تر خړو خاورو لاندی شوی
مانه د خامو شو مزارو خبری مه کوی
تن بی د بابا سایه له سره کمه شوی ده
دغه د ماشومو اسویلو خبری مه کوی
نوره بیر سری لیونی د لیونیو شوم
مانه د گلگونو کفنو خبری مه کوی
گوندی چی گلاب راته په مستو شونډو وخاندی
مانه په لاله کی دداغو خبری مه کوی
څو به مو پر دی خلک په سرو وینو بازی کوی
نوری د افغان د کړیدو خبری مه کوی
نوره بی «زاهد» کی د زغملو حوصله نشته
بس کړی د شلیدلو گریوانو خبری مه کوی

د شعر او ادب نړۍ

یو مسیر

الحاج گوهري

زه مسلمان یم له اسلامه بیلیدلی نه شم
زه د بلچیا قانون په ځان باندي منلی نه شم

اسلام می ختیه کي خمیر دی مسلمان یمه زه
د شریعت په مستقیمه لار روان یمه زه
که خدای می مل و بریالی په هر میدان یمه زه
له دی سپیځلي عقیدې نه تیریدلی نه شم

بل چې زما نه منې زه څه له دچا ومنم
ولې د هر کس او ناکس پوچه ویینا ومنم؟
بی له قرآنه ځانته بل څه رهنما ومنم؟
د خدای بنده یم بنده گی د بل کولی نه شم

دا مې گناه ده چې اسلام حاکمول غواړمه
په خپله خاوره کې قرآن نافذیدل غواړمه
زه خپلواکی د خپل وطن مې تل تر تل غواړمه
دا می مسیر دی زه په بله لاره تللی نه شم

ورک شه د بل وطن سره په ما نه لار مه نیسه
زه په خپل کار باندې پوهیږم ما نه کار مه نیسه
اسلام شعار لرمه ما نه بل شعار مه نیسه
زه «گوهري» د بل شعار په خوله ویلی نه شم

په افغانستان کي د تیر شاهي نظام، ملي حاکمیت، پارلمان او د تیر دموکراسي پال حکومت څرنگوالی ته یوه کتنه

ر.م.و ابراهیم خیل — څلورمه برخه

په ۱۳۲٤ کال د کنړ غرنی سیمی ولس له وښو او ځنگلی ونوله ترخو میوو څخه د تغذیی د مجبوریت له مخی د نورو خلکو په څیر د یوی گولی وچی ډوډی په خاطر د څارویو له پوټکو د جامو د جوړولو د مجبوریت لامله د ستر عورت د پټولو لپاره د ساده جامو د غوښتنی او د بچیانو له پاره د روزنځی او رزونکو د برحقی مطالبی په جرم څوک په مرمیو او څوک په زندان کی له بال بچ سره د مرگ کندی ته وغورځول. او پاته کسان یی له خپل کور کلی نه د هیواد بل ولایت ته په شړلو مجبور کړل.

په ۱۳۱۳ کال کی د کندهار د زمیندار خلک د کنړ ولس ته ورته د حقه غوښتنی په گناه دومره وتکول شول چی له بوداگانو پرته نور چا هلته ځان ټینگ نشو کړای.

په ۱۳۱۵ کی د کتواز د سلیمانخیلو پاڅون چی په خپل ځای ځانگی کی یی د دولت نه د روزگار برابرولو او دبچیانو د روزنی مطالبه کوله، د پوځ پواسطه زیاتره هند ته ولیږدول شول.

سپه سالار شاه محمود د ظاهر شاه بل تره د صدارت په گدی کښینول شو :

هر کله چی افغان ملت د سلطنت له منحطه چلند او په ولس د پاچا د سوداگری په نیت پوه شو، او په سراسری هیواد کی د دولت په ضد تحرک مضبوط او د عمومی پاڅون لپاره علی علی گنگوسه شوه، ظاهر شاه سملاسی محمد هاشم خان د صدارت له گدی لیری کړ، او په ځای یی بل اکا سپه سالار شاه محمود خان ته د حکومت بلنه ورکړه.

شاه محمود خان د هاشم خان د ترخی او ځورونکی اداری د تلافی په خاطر خپل سیاست ډیر سست، نرم او پوست کړ. او خلکو ته یی داسی وښوده چی گنی دا یوازی محمد هاشم خان و چی خلک یی ځورول او د خلکو د فقر، بی علمی، ناپوهی او بی روزگاری مسول و شاه محمود خان د پارلمانی انتخاباتو له پاره یوه لایحه جوړه کړه او د لمړی ځل لپاره یی د شوری د انتخاباتو له لری په دولتی چارواکی کی ولس ته د واک او حق په ورکولو تظاهر وکړ. خو څنگه چی دا کار د رواداری او ښه نیت له مخی نه و نو کله چی د شوری د انتخاباتو وخت را نژدی شو له یو پلوه د شاه محمود خان حکومت خپلو دولتی بریځو، یا لوړ رتبه کارمندانو ته په انتخاباتو کی د گډون او پارلمان ته د ورننوتلو دستور ورکړ، له بلی خوا یی د محمد گل خان مومند په شان، مومن هیواد پال علمی، مجربی څیری ته حتی د کوچیانو د نمایندگی له لاری هم په شوری کی د گډون حق ورنکړ.

د لوړ رتبه کارمندانو له جملی صلاح الدین سلجوقی د وخت د مطبوعاتو وزیر، عبدالهادی داوی د دارالتحریر شاهی مشر عبدالحی حبیبی، گل پاچا الفت، کریم نزیهی، شو غلام محمد غبار، عبدالرحمن محمودی ... ته گوته نیوای شو.

خو افسوس او ډیر افسوس چه دادمنی ونه یکیایه وخته، ددی شوری په انتظار چه د قوم او هیواد په زړه کی ستری هیلی را توکیدلی وی هغه ځای په زیونو کی و چی شوی شوری جوړه شوه د شوری په دننه کی خبری ډیری وی او الفاظ او کلمات ادبی او قانونی و وراندیزونه هم معقول له وخت سره سم او دولس د هیلو سره برابر وو، خو پریکړی، فیصلی او تصمیمونه منځ ته نه راتلل. د حکومت د پلویانو او د ملي او قومی غړو تر منځ د دولت د پټ دستور له مخی توافق نه راته. د شوری د دی دوری څلور کلنه سرده یوله د شوری د ممبرانو په مینځ کی په ضد او نقیض باندي تیره شوه.

هو! که څه هم شوری د غړو په لحاظ ډیره شانداره او اوچته وه خود عناصرو د اختلاف او د عقایدو د تضاد او د دولت د لاسوهنو له کبله د شگو له ځلی پرته او سمبولیک څیز نه زیات څه نه و. خو یوازی دولت وچه ددغی شوری له وجود نه یی سیاسی گټه تر لاسه کړه. حکومت د سلطنت مخالفان په نښه او تشخیص کړل. او هغوی ته یی بیا د شوری په نوی دوره کی ځای ورنه کړ په راز راز پلمو د ول ډول خندونو را منځ ته کولو یی له سیاسی حقوقو بی برخی کړل.

د ظاهر شاه دوه مخیز دولت یا سلطنت

د سپه سالار شاه محمود خان د صدارت د شوری د دوهمی دوری په انتخاباتو کی د تیری دوری د انتخاباتو نرموالی او پوستوالی یا سره سینه او پراخه حوصله نه لیدله کیده د کابل ښار په انتخاباتو کی د په گوته شویو کسانو لکه میر علی اصغر شعاع حسن ملک اصغر د لوگر، د وخت لوی ولسوال د ملاتړ لپاره حکومت له مخالفو کاندیدانو سره یوه خوا د درغلی په مقصد د ښار د هری انتخاباتی حوزی په سر زیات پولیس ودرول. او بل پلویی د مخالفانو سیاسی فعالیت د پوره مختیوی لپاره په کابل کی د لمړی ځل لپاره له مخالفانو سره د درغلی د محکومولو د شعار ورکولو په پلمه د پوهنتون بو شمیر دستوری استاذانو د لیسو دستوری شاگردانو، ځینی دستوری دولتی کارمندانو او ځینی ښاری ولسی دستوری کسانو په گډون مظاهره په لاره واچوله. دستوری کسانو د ښار له دوری وروسته د ارگ ختیزی دروازی ته ځان برابر کړ. غوښتل یی د مخالفو کاندیدانو د بدنامولو لپاره پادشاه ته د اعتراض د وراندی کولو په پلمه ارگ ته ننوزی لکه چی داسی هم وشول. د حکومت بریځو د فرصت نه په استفاده مخالف کاندیدان د ارگ د دروازی په خوله کی ونیول او زندان ته یی واچول.

چی پدی جمله کی ببرک کارمل او فاروق اعتمادی هم شامل وو خو هر کله چی دوی نیول او بندیانول په ولس کی د سیاسی اعتبار د پخولو لپاره وه تومودوه ډیره کړ او موقتی وه هغه په ظاهر کی د دولت یا سلطنت د مخالف په بڼه خو په واقع کی د سلطنت د جاسوس په توگه د هیواد د تعلیمی مرکزوو د هیوکو: چنجی په حیث په هیواد کی د مذهبی او دینی کمزورتیا را مینځ ته کول سرغندوی او په جمهوریت باندی د شاهی نظام د بدلولو د سرېزې دا شاعت وبندوي شو. پوره ٤٠ کاله یی پرله پسی پدغه لاره کی په سری او خفیه توگه زیات کار وکړ. خو چی څنگه پاچا د ببرک کارمل د مثبت فعالیت له مخی ځان خپلو مذهب ځپلو مقاصدو ته رسیدلی وگاڼه او پوه شو چی کولای شی د لوبی جرگی په رامنځ نه کولو د نوی اساسی قانون په جوړولو او په منځ، منځ کی د گوندونو د منلو له لاری په مذهب ریز مریز کوونکی گوزار وکړی لکه چی دا کار تر سره شو. که څه هم حکومت په نوی اساسی قانون کی د گوندونو د جوړولو اجازه ورکړی وه. خو! په عمل کی حکومت یوازی «د خلق - پرچم» کمونیست گوند په رسمیت وپیژاند او هغه د خپل مرام او مقاصدو د خپرولو لپاره په هیواد کی د خلق - پرچم اخبار د نشر امتیاز تر لاسه کړ هو! هر کله چی د ببرک د تیرو ٤٠ کالو موږدی کمونیستی مذهبی ضد لعنالیتیه تعلیمی کارگری او اداری، بزگری موسس کی ډیر پر مخ تللی و نو څکه ددی اخبار خپرونو په هیواد کی اسلام ضد او رته سخته لمن ووهله. د مذهبی او روحانی او اسلام ضد طبقو تر منځ ناوړه حالت تول هیواد په سر واخیست. خلق - پرچم اخبار په خلکو کی د نفرت له مخی هماغه چا څیره پنی له خپلی کمپلی بهر وویستی. او د مفسدانو سپکاوی یی ونر، هیواد ال په تیره بیا علما او روحانیون پدغه غیر مذهبی خپرونو سخت ویوگند او راوپاریدل د حکومت مسوولو مقاماتو ته یی ددغسی غیر مجاز فعالیتونو د

ناوړه عواقبو خبر داری ورکړې. خو حکومت دغه اخطار پاپیزه وگاڼه چاته یی لږ تر لږه د کمونیستانو پر ضد د هیواد په خپرونو کی د څه ویلو اجازه هم ورنکړه .

پاتي لري

اظهارات عالیقدر امیر المؤمنین به ارتباط نامه ...

سایر کشور هاي دیگر میگذرد و یا سرو-صدا هاي تحت نام تروریزم جریان دارد اینهم نتیجه اعمال و کردار نارواي روسها میباشد.

اکنون باز هم در مقابل افغانستان غم-زده روسها خود را غلامان امریکا و امریکایي ها خود را غلام روسها ساخته اند و بخاطر از بین بردن اسلام به بهانه تروریزم همدست گردیده اند و یکبار دیگر براي کمونست هاي شکست خورده سابقه جرئت داده که علناً دشمني خود را با اسلام اعلام بدارند و اگر موقف و موضعگیري امریکا چنین باشد پس موضوع اسامه بن لادن زیر بحث ما نبوده و این بسا خطرناك براي مسلمانان میباشد.

پس ما از خداوند بزرگ «ج» مي-طلبیم که دشمنان اسلام را به مصایب دیگر **دچار بسازد ورنه ما را دیگر راهي باقي نمانده جز اینکه سر هاي خویشرا در راه اسلام قرباني نمایيم.**

محترم والي ولایت ...

تعداد پروژه هاي عام المنفعه و بهبود هرچه بیشتر کار و فعالیت کارکنان آن مؤسسه معلومات ارائه نمود. دراین میان محترم والي بغلان از دوام فعالیت هاي آنان اظهار امتنان نموده اظهار امیدواري نمود که امارت اسلامي هرگونه شرایط کار و فعالیت را براي آنان به وجود آورده و میتوانند در فضاي صلح آمیز و مطمئن به فعالیت هاي بشر دوستانه شان ادامه دهند.

در ولایت هلمند ...

ولسوالان آنولایت و عده دیگر از مسؤولین امارتي ولایت هلمند دایر گردید.

طي جلسه متذکره محترم معاون ولایت هلمند و محترم رئیس کمیسیون عالي امارتي مبارزه علیه مواد مخدر در رابطه به کاهش زرع کوکنار در تناسب سالهاي گذشته صحبت نموده و بمنظور تطبیق و تعمیل فرمان عالیقدر امیر المؤمنین در قسمت کاهش زرع کوکنار به مسؤولین ذیربط هدایات و-رهنمایي اي لازم نموده و مسؤولیتهاي شانرا در زمینه روشن ساختند.

امور تحصیلات عالي در...

عالي در زمینه به مسؤولین ذیربط هدایات لازم دادند.

طبق یك خبر دیگر مشکلات پوهنتون ولایت بلخ دیروز در شوراي رهبري آن پوهنتون مورد بحث قرار گرفت.

در شورا ابتدا، محترم مولوي محمد-صدیق صادقیار رئیس پوهنتون بلخ اجراآت آن پوهنتون را طي سال جاري ارائه نموده مشکلات و پرابلم هاي پوهنتون متذکره را مطرح نمود.

بعداً محترم مولوي حمد الله نعماني وزیر تحصیلات عالي در رابطه به پالیسي هاي فرهنگي امارت اسلامي افغانستان صحبت نموده بخاطر رفع مشکلات و تنظیم بهتر امور تحصیلي در پوهنتون آنولایت هدایات لازم داد.

متعاقباً محترم مولوي پیر محمد-روحاني رئیس پوهنتون کابل در رابطه به **موضوع صحبت نموده رسالت استادان را در برابر اولاد وطن که آینده ساز جامعه هستند برجسته ساخت.**

پیښې او پرمختګونه

حادثات و انکشافات

د ترکیې د سمندري پوځ مانور پیل شو

د ترکیې د سمندري پوځ مانور پرون د ایجن په سمندرګي کي پیل شو.

د ترکیې د سمندري پوځ د قوماندان په خبره په دغو پوځي تمریناتو کي چي د سپین توپان په نامه د ایجن سمندرګي په نړیوالو اوبو کي کیږي په دافع هوا او په سمندري وسلو سمبالي څو بېړي او ددغه هیواد د سمندري پوځ جنګي الوتکي ګډون لري.

ددغه تمرین هدف چي د عقرب د میاشتي تر اتلسمي نیټي پوري به دوام وکړي د ترکیې هوایي سمندري او تر ځمکي لاندي جنګي وړتیا ښودل دي.

د اسرائیلو جنګي الوتکو د لبنان د جنوب په سیمو بریدونه وکړل

د اسرائیلو جنګي الوتکو د لبنان د جنوب په سیمو باندي بریدونه وکړل.

د لبنان د یوه امنیتي خبر ځاي د څرګندولو له مخي تر اوسه پوري ددغه برید له امله د سر د احتمالي زیانونو د شمیر په باره کي چي پرون سهار وشو خبر ندي تر لاسه شوي.

د اسرائیلو هوایي پوځ په وروستیو ورځو کي د لبنان په جنوب باندي خپل بریدونه پراخ کړیدي.

د یونان په یوه بېړي کي د اورلګېدني له امله څلور تنه وژل شویدي

د یونان په یوي بېړي کي د اور د لګیدو له امله څلور تنه سپرلي وژل شویدي.

په خبر کي ویل شویدي چي وژل شوي کسان د کردستان فراریان دي. د اور لګېدني د علت په باب څه ندي ویل شوي.

چاقي زیاد طول عمر را کوتاه مي سازد

چاقي زیاد طول عمر را کوتاه مي کند. تحقیقات اخیر محققان امریکایي تاکید کرده که چاقي زیاد به خصوص در افراد سفید پوست طول عمر انسان را کوتاه مي کند محققان انجمن سرطان امریکا اتلانتا تاکید کردند افزایش بیش از اندازه اي وزن بدن خطر مرگ به علت هاي مختلف از قبیل مریضي هاي قلبي و عروقي سرطان و سایر مریضي ها را هم در بین زنان و هم مردان در هر سن و سالي که باشند افزایش مي دهد.

پروفیسور یوجنه کال که درین تحقیقات نقش مهمي داشته خاطر نشان مي سازد که خطرات ناشي از افزایش وزن در سفید پوستان بیشتر از سیاه پوستان است. تحقیقات اخیر که بر روي یك ملیون افراد کلان سال در امریکا صورت گرفته و چهارده سال ادامه یافته گسترده ترین تحقیقي است که تا اکنون در زمینه چاقي افراد انجام شده است. درین مدت دو صدو یك هزار تن از افرادي که مورد بررسي قرار گرفته بودند در گذشته اند. محققان اعلام کردند خطر مرگ مردان بسیار چاق دونیم برابر سایر مردان است و زنان بسیار چاق دو برابر سایر زنان با خطر مرگ روبرو هستند.

۱

د کابل پوهنتون د فارمسي..

جوړه شوي وه د کابل پوهنتون مرستیالانو محترم مولوي فضل الرحمن او محترم قاري اجمل احمد زي د فارمسي پوهنځي رئیس محترم قاري عبدالولي او ددغه پوهنځي استاد محترم پوهنوال محمد عثمان بابري د خپلو خبرو په ترڅ کي د هیواد او خلکو په وړاندي ددغه پوهنځي د فارغانو راتلونکي مسولیتونه جوت کړل او له هغوي نه یې وغوښتل چي په پوره جدیت او اخلاص د هیواد او خلکو خدمت وکړي او خپل مسولیت ادا کړي.

په دي پوهنځي کي یو سلوانه اتیا تنه محصلان په زده کړه بوخت دي او اته دیرش تنه محصلان ددغه پوهنځي له څلور دیرشمي تعلیمي دوري نه د لیسانس په سویه فارغ او پرون د فراغت سندونه وربانډي وویشل شول.

دارالحفاظ حضرت ...

تعلیمي و فرهنگي امارت اسلامي مبني بر تشویق اولاد مسلمان کشور در راه فراگیري تعلیمات علوم اسلامي اظهار قدرداني نمودند. دارالحفاظ حضرت زید بن ثابت «رض» که گنجایش سه صد تن طالب العلم را دارا میباشد فعلاً در آن ۱۱٦ طالب العلم توسط استادان مجرب و ورزیده مصروف آموزش میباشند

شفاخانه ۵۰ بستر ولایت ...

بغلان که از چندین سال به اینطرف به علت عدم توجه مسؤولین وقت از فعالیت بازمانده و غیر فعال گردیده بود دو باره احیاو مورد استفاده قرار گرفت.

کار این پروژه چندي قبل از طرف ریاست صحت عامه ولایت بغلان به کمك مالي اداره کمك هاي بشري مؤسسه فوکس به مصرف شش صد ملیون افغاني آغاز یافته بود.

در مراسم افتتاح رئیس صحت عامه ولایت بغلان ضمن قدرداني از اداره کمك هاي بشري فوکس منسوبین و دوکتوران صحت عامه ولایت بغلان را در قسمت تسریع فعالیت هاي صحي به مردم فرا خواند بعداً نماینده دفتر فوکس در رابطه به چگونگي پلان پیش بیني شده کار ترمیم شفاخانه متذکره معلومات داد

شفاخانه متذکره داراي سرویسهاي مختلف صحي و سایر ملحقات ضروري بوده که در عرصه خدمات صحي بخش اعظم مشکلات مردم ولایت بغلان مرفوع خواهد شد.

یك گروپ از اخلال ...

رسیده اند.

خبر مي افزاید که ۹ تن دیگر از این گروه مفسد و اخلال گر هنگام رویارویي با-منسوبین امنیتي ولایت سرپل زخمي گردیده و سلاح هاي دست داشته آنان که با استفاده از آن مردم آن منطقه مورد آزار و اذیت قرار میگرفت و باعث اخلال و بي نظمي نظم و امنیت در این منطقه میگردید بدست نیرو هاي امنیتي ولایت سرپل افتیده است.

اجراآت و فعالیت ...

داد: در جلسه که تحت ریاست محترم مولوي عبدالمنان حنفي والي ولایت سرپل و به اشتراك معاون و سایر مسؤولین دوایر ملکي و نظامي آنولایت دایر گردید اجراآت و فعالیت هاي ادارات متذکره تحت غور و بررسي قرار گرفته و محترم والي آنولایت جهت بهبود بیشتر امور به مسؤولین مربوط هدایات و رهنمایي هاي لازم نمود.

سپس عده یي از مسؤولین امور طي صحبت هاي شان اطمینان دادند که در جهت خدمت به وطن و مردم مجدانه عمل نموده و از هیچ گونه سعي و تلاش دریغ نخواهند ورزید.

د غزني ولایت ...

د کمیټې لخوا ددغي ولسوالي د خلکو په همکاري پنځه میاشتني مخکي پیل شوي و او په دي وروستیو وختو کي پایته ورسید او دغه روغتون په رسمي ډول روغتیایي خدمتونو ته چمتو شو.

مسابقات علمي و ...

محفل با تلاوت آیاتي چند از کلام اللّه-مجید آغاز گردید، سپس بیانیه افتتاحیه و-رهنمودي، محترم الحاج مولوي محمد اسحق «قانت» رئیس معارف ولایت کابل به ارتباط راه اندازي همچو مسابقات علمي بین طلاب مدارس و نتایج مثبت و ارزنده آن ایراد گردید به تعقیب آن محترم مولوي باز محمد-«حقاني» ولسوال شکردره و عده یي از علماً به ارتباط ارزش علم و برنامه هاي فرهنگي امارت اسلامي افغانستان بیانیه هاي خود را ایراد نمودند.

به تعقیب آن مسابقات آغاز گردید و در نتیجه براي برندگان درجه اول مبلغ یك لك-افغاني و براي برندگان درجه دوم مبلغ هفتاد-هزار افغاني و براي برندگان درجه سوم مبلغ پنجاه هزار افغاني جوائز نقدي توزیع گردید. در مرحله دوم مسابقات به سطح ولسوالي براي اول نمره یك جلد قرآنکریم، یك لنگي، یك کلاه و یك مسواك، براي دوم نمره یك جلد قرآنکریم، یك کلاه و یك مسواك و براي سوم نمره یك جلد قرآنکریم، یك کلاه و یك مسواك تحایف داده شد.

همچنان براي عده یي از استادان مدارس تحایف یك یك لنگي که از طرف اهالي متدین ولسوالي شکردره تهیه شده بود توزیع گردید. در محفل ترانه هاي اسلامي و جهادي و پارچه هاي نعتیه توسط شاگردان بخوانش گرفته شد. در اخیر محفل به سر یکتن از شاگردان ممتاز (اول نمره) به سطح آن ولسوالي دستار بسته شد. محفل با-دعائیه مبني بر حاکمیت اقامه نظام شرعي و-فلاح امت مسلمه پایان یافت.

برخي از مسایل ...

مورد ارزیابي قرار گرفت بخاطر بهبود و بیرون رفت از وضع موجود اقتصادي کشور بحث صورت گرفته در زمینه تصامیم لازم اتخاذ گردید.

در این جلسه محترم الحاج ملا الله داد «طبیب» معین وزارت مخابرات محترم مولوي-فضل محمد «فیضان» معین وزارت تجارت محترم مولوي محمد اعظم «علمي» معین وزارت معادن و صنایع محترم مولوي نجیب-الله «حقاني» معین وزارت مالیه، محترم مفتي-حبیب الرحمن «حنیفي» معاون اداره مرکزي **تشویق و انکشاف سرمایه گذاري خصوصي، محترم مفتي عبدالمنان «دیوبندي» معاون سوم د افغانستان بانك و نماینده گان وزارت آب و برق و شاروالي کابل اشتراك ورزیده بودند.**

په هندوستان کي د ...

مخکي د اوریسا او د لودیځ بنګال په ایالتونو کي چلیدلي و.

په دي پیښه کي دغه راز زیاتره توپان ځپلي کلي د هغو ځپو له امله چي تر دولسو مترو پوري لوړوالي یې درلود تراوبو لاندي شویدي.

له نوي ډیلي نه په رارسیدلو خبرونو کي ویل شویدي چي څه نا څه یو نیم ملیون کسان بې کوره شویدي او د ځښلو د اوبو د کمښت او د خوراکي موادو د نشتوالي له امله په اضطراري حالت کي دي.

تبصره

اظهارات دوستم ثابت ساخت که :

ملیشه ها بقایاي مخلص کمونیزم و عمال کفر جهاني اند

جهانیان و مردم متدین افغانستان شام دوشنبه گذشته شاید مصاحبه عبدالرشید دوستم سردسته ملیشه هاي فراري گلم جم را با رادیو بي. بي. سي استماع نموده باشند، دوستم که بعد از فتح ولایات شمال کشور توسط لشکریان فاتح اردوي امارت اسلامي افغانستان از کشور فرار نموده و در ترکیه مسکن گزین گردیده بود اخیراً بار دیگر به پابوسي آستانه کرملین شتافته و از باداران قبلي خویش طلب کمك نموده تا به سرحدات جنوبي روسیه را به اصطلاح امنیت و حفاظت نصیب نماید.

عبدالرشید دوستم در سخنان خویش گفت که من به مقامات روسیه تفهیم نمودم تا غرض نجات روسیه از مبارزین مسلمان و تأمین امنیت و آرامش در سرحدات جنوبي روسیه لازم است تا فدراسیون روسیه به ملیشه هاي محصور افغانستان کمك نموده و فقط همان به اصطلاح دولت اسلامي افغانستان و جبهه متحد است که روسیه را به گفته دوستم از شر مجاهدین اسلامي مصؤن ساخته میتواند.

اگر چه براي آنهاییکه سوابق و شخصیت دوستم برایشان هویدا است شنیدن چنین خیالات ضد اسلامي و ضد افغاني از زبان موصوف چیز عجیب نیست زیرا دوستم از ابتداء در پابوسي لشکر سرخ شوروي سابق در افغانستان صاحب «نام و نشان» گردیده بود و اکنون نیز به گفته خودش فقط به خدمت روسها «تیارسيٌ» حاضر بوده و کمك روسهاست که میتواند وي را دو باره صاحب «قدرت» نماید، افسوس و صد افسوس به حال آنانیکه تا دیروز اسم مبارك مجاهد را بر خود گذاشته و اکت هاي خیلي بلند و بالا مینمودند و امروز در قطار همان افرادي قرار دارند که خدمت روسها را به جبین گشاده پذیرفته و غرض قبول خدمت شان در دربار پلتسین عجز کنان در آستان کرملین به نوحه و زاري مي پردازند !!

اگر اظهارات دوستم را دقیقاً تحلیل نماییم واضح مي گردد که دوستم و ملیشه هاي باغي هم پیمان وي فقط و فقط بقایاي مخلص کمونیزم و عمال کفر جهاني بوده و از هر طریقي که بتوانند سد راه دعوت و جهاد مسلمانان را از مسؤولیت هاي خویش مي پندارند، شاید ناظر وقایع بین المللي و بعضي از سیاسیون مداخلات خارجي را عامل مهم تداوم کشمکش ها در افغانستان قلمداد نمایند اما به این مصیبت و سفاهت چه جواب خواهند گفت که یك فرد کشوري غرض اخلاص خدمتگذاري خود باداران خارجي خویش را به مداخله مستقیم نظامي و حتي «تکرار تجاوز» بر افغانستان تشویق و دعوت مي-نماید. عمال کمونیزم در افغانستان از روز نخست وابستگي شان با کرملین وعده سپرده بودند که افغانستان را به جزءسرزمین اتحاد جماهیر شوروي سوسیالستي ؟! تبدیل خواهند کرد. نه تنها ببرك کارمل و یاران خلقي پرچمي وي در جریان دعوت ارتش سرخ به افغانستان به وعده متذکره شان وفا نمودند بلکه اکنون نیز همان احساس پلید در افکار ملیشه هاي باغي زنده بوده و اینك سر دسته شان دوستم به افتخار زیاد از آن یاد آوري نمود حال اگر باز هم کسي شك دارد که فلان و فلان به کمونیزم و روسها منسوب نبوده و افغانان مسلمان اند، شاید حق را هرگز دیده نتوانند، دوستم شاید خیال نموده باشد که همچو ببرك کارمل باغ هاي سبز بحر هند را به روسها نشان داده و آنها را به مداخله مستقیم و یا قسمي در افغانستان تشویق و دعوت نموده و در چتر مداخلات آنها صاحب نام و نشان خواهد گشت، اما او باید بداند که ملت مجاهد افغان تا هنوز هم مجاهد و کفر شکن است، اراده هاي قهرمانانه این ملت خدا پرست در راه دفاع از اسلام و افغانستان عزیز خلل ناپذیر بوده و هر مداخله گر را چنان مشت کوبنده بر دهان حواله خواهد نمود که تا قیام قیامت همچو ارتش سرخ و شوروي گمنام از یاد دهاني نام افغان و افغانستان مو بر اندام شان راست گردد، ملت مجاهد افغان از دشمني که یك بار آنرا بر زمین مالیده و تاریخ هفتاد ساله جهان سالاري شان را نیست و نابود نموده هیچگاهي هراس بدل راه نداده و به توکل و نصرت الهيّ «ج» بار دیگر آنها را جواب متقابل خواهد داد.

با اظهارات اخیر دوستم شاید آن عده ساده لوحاني که هنوز هم به خیال به اصطلاح دولت اسلامي افغانستان در کنار جبهه متحد ؟! قرار دارند به خود آمده و دریافته باشند که تشکیلات ملیشه صرف و صرف غرض مبارزه با اسلام و دفاع از سرحدات و منافع کفر بین المللي بوده و با خواسته هاي اسلامي هیچ کدام ارتباطي ندارد. اگر صاحب عقل و ایمان مستقیم اند شاید که از کنار ملیشه ها جدا گردند !!

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirat of Afghanistan

Chief Editor: Abdurrahim Saqeb

Printed by: Emirat Printing Press

د ګوون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150